**د سرو زرو د پانګونې صندوق (بريق) يو غير قانوني پانګوالي شرکت دی او د ګټې لاسته راوړو لپاره يې د وسايلو پېرودل حرام دي**



(ژباړه)

د خلکو او شرکتونو لپاره د سرو زرو پانګې د ونډو خرڅلاو (**بريق**) د ۲۰۱۸م د اکتوبر په ۱۵ مه د دوشنبې په ورځ د سوډان مالي خدماتو شرکت (SICO) له لوري پرانيستل شو. د شرکت بنسټګر د ۲۰۱۸م د اکتوبر په ۸ مه د پرانيستغونډې پر مهال چې لومړي وزير هم پکې حضور درلود، وويل: «د دغه صندوق موخه دا ده چې د صندوق د پيسو پر مټ د سوډان له مرکزي بانګ سره د سرو زرو په پېر و پلور کې د ګټې لاس ته راوړو لپاره کار واخيستل شي، چې له ۲۵ سلنې څخه پيل کيږي. دا صندوق به د اکتوبر له ۱۵ مې تر ۳۱ مې پورې د ۳ ميلياردو سوډاني پونډو پانګې سره پرانيستل شي، چې ۳ ميليونه ونډې به لري، چې د يوې ونډې ارزښت به يې زر پونډه وي. د دغه صندق موخه دا ده چې د اسلامي شريعت د اصولو په رڼا کې سپمول شوې پيسې را ټولې او د سرو زرو د پېرلو او پېرودلو په برخه کې پرې پانګونه وشي.» (د سوډان رسنيز مرکز/ ۰۹،۱۰،۲۰۱۸)

حزب التحرير-ولايه سوډان د سکوکو (ونډو) د تړون په برخه کې د اسلامي شريعت په رڼا کې لاندې واقعتونه وړاندې کوي:

لومړی: دغه صندوق په واقعيت کې د عامه ونډو يو ګډ شرکت (Public Joint Stock Company) دی، چې د سندونو د مالکانو له لوري چې (بريق) په نامه يا ديږي، را منځته شوی. هر څوک چې يوه ونډه پېري، هغه د دغه شرکت يو شريک بلل کيږي او د شرکت په ګټه کې شريک دی.

دويم: په اسلام کې مجوز شرکت هغه ته ويل کيږي چې د دوو يا ډېرو کسانو تر منځ داسې يو تړون وشي چې له مخې يې ګډونوال د ګټې لاس ته راوړلو په موخه پر مالي کارو بار سره سلا وي. لکه څرنګه چې په ټولو اسلامي تړونونو کې ايجاب او قبول اړين دی، همدا رنګه د يو شرکت د تړون لپاره  هم ايجاب او قبول داوړه اړين دي. نو ځکه هغه تړون ته چې پکې د ګډون لپاره يوازې پيسې ورکولو کېږي، تړون نه شو ويلی.

دريېم: د غربي قانون له مخې د ګډو ونډو شرکت يوه پانګواله معامله ده چې دوې معاملې سره بېلوي؛ لومړی، د يو کس د ارادې پر بنسټ، تړون او ليوالتيا. دويم، هغه تړونونه چې د غربيانو خپل منځ کې تړل کيږي چې دوه لوري پکې ښکېل وي او يو بل ته ژمن وي، لکه؛ د پېرودلو، وکالت يا هم د ګومارنې په تړونونو کې.

د يو کس د ارادې پر بنسټ تړون، هغه دی چې له يو لوري څخه برابريږي، لکه؛ د عامه ونډو شرکت. په دې ډول ويلی شو چې دا حتی د غربيانو لپاره هم يو تړون نه شي کېدی. دا ډول تړون له شريعي اړخه باطل دی او باطله معامله حرامه ده.

هغه شرکتونه چې په اسلام کې ورته جواز ورکړل شوې په پنځه ډوله دي: العنان (مساوي)، الأبدان (بدني)، المضاربه (دوه یا ډېر)، الوجوه (مخونه) او المفاوضه (خبرې اترې). دا ټول شرکتونه له ګډو ونډو شرکت سره هیڅ تړاو نه لري، هغه کسان چې په دې اړه ډېرو جزیاتو ته اړتیا لری، کولی شي چې د فقې معتبرو کتابونو ته رجوع وکړي.

د سرو زرو بریق صندوق د حکومت له لوري رامنځته شوی او ځینې خاینو درباري علماوو د دغه صندق د جواز په تړاو فتواوې صادرې کړې، په حقیقت کې دا د ګډو ونډو یو شرکت دی، چې په اسلامي شریعت کې ځای نه لري او د ګټې لاسته راوړلو لپاره یې د سکوکو پېرودل حرام او منع کړل شوي دي.

**اې مسلمانانو!** نن زموږ د ژوند ټولې برخې د هغه اسلامي شریعت پر بنسټ چې د الهي وحې په واسطه را لېږل شوی، نه دي تنظیم شوې، بلکې د غربي قانون پر اساس تنظیم شوې، چې زموږ ژوند یې فاسد او تبا کړی. نو د هغه ربښتني بدلون په هڅه کې شئ چې د رب العالمین له لوري پر تاسو واجب شوی او له تاسو سره یې د هغه پر مټ د بریا او اجر وعده کړې او دا بدلون به ډېر ژر د الله سبحانه وتعالی په اراده د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کړنلاره د دویم راشده خلافت پر مټ د اسلامي شریعت پر پلې کولو او د اسلامي ژوند پر بیا پیلولو سره رامنځته کیږي او هغه وخت رارسېدلی.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾** [انفال:۲۴]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! د الله سبحانه وتعالی امر ته غاړه کېږدئ او د هغه د پیغمبر صلی علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایئ، کله مو چې هغه څه ته دعوتوي چې تاسو ته ژوند درکوي. پوه شئ چې الله سبحانه وتعالی د انسان او د هغه د زړه تر منځ جدایي رامنځته کوي او ټول به د الله سبحانه وتعالی لور ته ورغونډ کړل شی.*

**د حزب التحریر-ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق، د صفر ۱۰مه**

**۲۰۱۸م، د اکتوبر۱۹مه، جمعه**